مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۳۰ / ۰۳ / ۲۰۲۰

# ساقي

ساَقي وويشه جامونه په محفل کي
چي نصيب دي ثوابونه شي بدل کي
ملا پريږده چي د مرګ بوللي وايي
پرېکوي ساده سرونه دي غوبل کي
د انصاف تله يوازې ستا په لاس ده
نورخو ټول عالم لګيا دی په چل ول کي
نن محفل ته دي په شوق ترې راغلي
چي خروب، غاړه غړی شي په يوبل کي
خم خالي کړه د سبا انديښنه مه کړه
پيالي ډکي کړه، تر مورګو په يو ځل کي
ترې داسي شان ته مست او ليوني کړه
چي ټالي او تيندکونه خوري مزل کي
پر دلدل اس يي سپاره او په هوا کړه
چي معراج ته ورسيږي خپل اټکل کي
هسي خوښ شي چي په غورو، قصو راشي
د ابد قصه ترې جوړه شي ازل کي
د تېر وخت د ترخو شپو تصوير يي هېرشي
د اينده ژوند د خوږو ورځو تکل کي
زړونه تش کړي، مغز پرېولی شي له سره
بيا د ميني ژوند يي پيل شي په کوګل کي
له محفل يي د وروری دوستی خبرې
خوندي پاتي شي په مغز او د زړه تل کي
د ساقي مقام به هره ورځ لوړيږي
د مفتي مقام به لويږي په بدل کي
د ساقي د ناستي بل برکت دا دی
چي مستي راوړي په نثرو په غزل کي
شعروزمه خيالونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ